## حَبلُ‌المـَتین (۷): د اسلام له لیدلوري د ارامۍ او خوشالۍ په لټه کې (۲)




**ارامۍ او خوښۍ ته اسلام په کوم نظر ګوري؟**

د مشهور کتاب «خوښي» لیکوال پروفیسور ریچارد لایارد د خپل کتاب په وروستیو کې په ژوند کې د نارضایتۍ له کړکیچه د وتلو لپاره وړاندیز کوي، چې د خوښۍ او ارامۍ ته د رسېدو یو خورا مهم لامل یو لړ ثابت او همېشني ارزښتونه او تر دې هم مهم په ژوند کې هدف درلودل دي.

جالب ټکی دا دی، چې اسلام اساساً د ژوند له هدفه پیلېږي. په اسلامي نړۍ‌لید کې ارامۍ ته رسېدل د ژوند خورا اساسي پوښتنو ته د ځواب ورکولو له لارې تر سره کېږي. اساسي پوښتنې: له کومه ځایه راغلی یم؟ د څه لپاره راغلی یم؟ چېرې ځم؟ دغو پوښتنو ته هر ډول ناسم او نه قانع کوونکی ځواب د وګړي په ژوند کې د پرېشانۍ او اظطراب لامل کېږي. مګر کله چې یو وګړی دغو پوښتنو ته سم، عقلي او قانع کوونکی ځواب ومومي، د ده د ذهني ارامۍ او د زړه د ډاډ لامل کېږي او سکینت تر لاسه کوي.

اسلام خپلو پیروانو ته په ژوند کې جالب میکانیزمونه ترسیم کړي، چې په درک او پلي کولو یې د انسان زیاتې رواني ستونزې حل کېږي:

**۱. قضا او قدر:** د قضا او قدر مفهوم د اسلامي عقیدې یو اساسي مفهوم دی، چې په وسیله یې یو مسلمان درک کوي، چې په ژوند کې ډېری داسې مسایل شته، چې کنترولوی یې نه شو. په حقیقت کې انسان په دوو دایرو کې ژوند کوي. پر یوه یې چې د اعمالو دایره ده، تسلط لري؛ خو پر بله چې د حوادثو دایره ده، تسلط نه لري.

هغه دایره چې وګړی تسلط نه ورباندې لري، هغه مهال ده، چې داسې یوه پېښه کېږي، چې د وګړي له کنټروله بهر وي او دفع کولی یې نه شي. په دې اړه اسلامي عقیده موږ ته داسې ښوونه کوي، چې خیر او شر ټول د الله سبحانه وتعالی له لوري دي او د حادثې د راتګ په اړه باید اندیښنه ونه شي یا یې د خیر او شر عاقبت ونه ټاکل

شي. دا مسئله د دې لامل کېږي، چې ډېر هغه مسایل له منځه ولاړ شي، چې په ژوند کې د يوه وګړي د تشويش لامل کېږي او شخص د هغو مسايلو په اړه، چې کنټرول نه پکې لري يا يوه حادثه چې ده ته ورپېښه شوې يا په راتلونکي کې څه ورپېښېږي يا ولې د نورو خلکو غونډې شتمن او د مقام خاوند نه دی او دې ورته نورو په اړه تشويش نه کوي.

پيغمبر صلی‌الله‌عليه‌وسلم فرمايلي دي: «که څه درپېښ شي، مه وايه، چې که مې داسې او هسې کړي وای، داسې او هسې به شوي وو. ووايه چې د الله سبحانه وتعالی قضا وه او څه يې چې غوښتل، همغسې وشول، ځکه «که» د شيطان د نفوذ دروازه پرانيزي.»

د غرب لپاره دا يوه خورا ستره ستونزه ده، ځکه په غرب کې غالبه مفکوره مادي مفکوره ده او په دې نظر دي، چې حوادث او پېښې دوی کنټرولولی شي يا ډېری پايلې او لاسته راوړنې خپلو هڅو ته منسوبوي. مثلاً وايي: که وګړی په خپل وخت کې مناسب انتخاب ولري، دا ډول پايلې لاسته راوړلی شي. دا مفکوره سمه نه ده، ځکه زياتره کسان پر دې سربېره چې زياته هڅه کوي، بيا هم له ناکامۍ سره مخ کېږي. نو د قضا او قدر د مفهوم د نشت په صورت کې دا ناکامي د وګړي په ژوند کې د ژورې نارضايتۍ او تشويش لامل کېږي. دا حالت د وګړي ژوند له داخله ورستوي او د هلاکت کندې ته يې غورځوي.

**۲. د شتمنۍ او مقام مفهوم:** پر نړۍ د پانګوالي نظام حاکميت او نفوذ ته په پام له شتمنۍ او پانګې سره تړلې مفکورې او مفاهيم زموږ په وخت کې زيات اهميت لري. البته دا ټکی بايد روښانه شي، چې د نارضايتۍ په اړه زياتره څېړنو ته چې په دې مقاله کې اشاره شوې، په شتمنۍ پورې تړلې دي، موضوع داسې درک نه شي چې د مقالې موخه په نړۍ کې د ځينو نورو مفکورو تاييد دی، چې شتمني ذاتاً شر ګڼي.

بلکې محوري موضوع د شتمنۍ په اړه د اسلام پر متفاوت ليدلوري بحث دی. اسلام شتمني درلودل نه غندي او شر يې نه ګڼي، بلکې د شتمنۍ په اړه يې مفکورې او ليدلوري اصلاح کړي. په واقعيت کې اسلام شتمني امتياز نه ګڼي؛ خو هغه کسان چې ټوله هڅه او هاند او د ژوند اصلي تمرکز يې د شتمنۍ جمع کول وي او له اخرته غافل وي، پر هغو يې حمله کړې او غندلي يې دي.

په اسلامي نصوصو کې د شتمنۍ په اړه زيات بحثونه شوي دي. د اسلامي عقيدې يو مورد دا دی، چې وايي رزق د الله سبحانه وتعالی له لوري دی او سبب نه لري؛ يعنې امکانات، اسانتياوې، ماديات او شتمني رزق دی، چې د الله سبحانه وتعالی له لوري تعين شوي، وګړي ته رسېږي او د هغه هڅه يې پر زياتي او کمي هېڅ اغېز نه لري. البته داسې فهم نه شي، چې رزق تعين شوی، نو وګړی يې د تر لاسه کولو لپاره هڅه ونه کړي، بلکې د رزق لپاره هڅه هم يو شرعي حکم دی او وګړی بايد د خپلې نفقې لپاره هڅه وکړي. مګر اسلام له فکري او رواني اړخه دا ستونزه حل کړې ده.

د دې تر څنګ اسلام د حسادت او بخل په اړه ګواښ کړی او دا دوه صفتونه د ستړې نارضایتۍ د تولید او له خپل حالت سره د یو شخص د اړیکې د پرې کېدو لامل کېږي. شخص خپل نعمتونه نه شي شمارلی، ځکه احساس کوي، چې زیاتره څیزونه چې نور یې لري، دی ترې بې‌برخې دی.
پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم د حسد او د شتمنۍ پر اساس د سیالیو په باب فرمایلي دي: «حسد ته متوجه اوسئ، حسد د انسان نېک اعمال داسې خوري لکه اور چې خس خوري.» په بل حدیث کې فرمایي: «تر ځانه ټیټو کسانو ته وګورئ او هغو کسانو ته مه ګورئ، چې تر تاسو لوړ دي. دا غوره کار دی، چې د الله نعمت کم او سپک ونه ګڼئ.» (دا د مسلم لفظ دی).
**۳. ښه او مثبت تعبیر:** اسلام د یوه مسلمان پر تعبیر زیات بحثونه لري او په یوه ډول یې خپلو پیروانو ته پر خوشبینۍ او مثبتګرایۍ تاکید کړی او په همدې موخه یې انسان ته ځینې خورا اساسي تعبیرونه اېښي، تر څو انسان وکولی شي، د دغو اساساتو په سیوره کې خپل ځان له منفي تعبیرونو لرې کړي. داسې تعبیرونه لکه: په پېښنو کې د خیر وشر نه تعینول، رزق او اجل سبب نه لري، د الله سبحانه وتعالی په اړه نېک ګومان درلودل، په ژوند کې خوف او رجا درلودل او دا چې هره حادثه مومن ته ورپېښېږي، په نهایت کې د ده په خیر تمامېږي.
د دې تر څنګ اسلام د انسان په داخلي ارزښتونو تاکید کړی، چې له اساسه هر انسان له خپلو داخلي ارزښتونو سره سم تعبیر کوي او که دغه داخلي ارزښتونه ناسم وي، پېښې ناوړه تعبیروي، مثبت موارد هم منفي تعبیروي او ګیلاس نیم خاليویني.
جالب ټکی دا دی، چې اسلام د غرب د مبداء پر خلاف انسانان یو د بل په اړه په نېک ګومان ته هم هڅوي او دا حالت د کینو او بدبینیو د کمښت لامل کېږي او په ټولنه کې اقتصادي او ټولنیز رقابتونه کمرنګه کوي. نن د غرب ستره ستونزه د بې‌باورۍ ده، د باور اساس پر ښه تعبیر څرخي او غربي انسان ځان له منفي تعبیرونو نه شي خلاصولی، ځکه غربي مفکوره نوموړی بخل، حسادت او له نورو سره رقابت ته هڅوي.
**۵. له دنیا سره زړه نه تړل:** که څوک د ژوند هدف درک کړي، مومي چې د دنیا ژوند ډېر لنډ او ژر تېرېدونکی دی او ژوند کولو ته زیات وخت نشته، چې دنیا دې خپل ځان ته جذب او زړه یې په ځان پورې وتړي. البته دا په دې معنی نه ده، چې موږ په ژوند کې پر هندویي راهبانو او زاهدانو بدل شو، چې دنیا ته یې شا کړې؛ بلکې هدف دا دی، چې زموږ زړونه په دنیا پورې ونه تړل شي او زموږ توجه او اصلي تمرکز له اخرته دنیا ته وانه وړي.
که له یاده وباسو چې په دنیا کې ژوند موقتي دی، د دې لامل کېږي چې که حالات او حوادث په کومه بڼه چې موږ یې غواړو، پر مخ ولاړ نه شي یا په ژوند کې له زیان سره مخ شو یا هغه مسایل جدي نیول چې په اوږد مهال (آخرت) کې ډېر مهم نه دي، د بې حده تشویش، اظطراب او پرېشانۍ لامل کېږي. الله سبحانه و تعالی د دې دنیا د ژوند د حقیقت په اړه فرمایلي دي:

﴿اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ﴾ [حديد: ۲۰]

*پوه شئ چې د دنيا ژوند په حقيقت کې لهولعب، سينګار، يو پر بل فخر کول او په مالونو او اولادونو کې زيادت غوښتل دي.*

همدرانګه رسول الله صلیﷲعليهوسلم موږ ته داسې توصيه کړې: *«د يوه غريب (پردي) انسان او لاروي په څېر ژوند وکړئ»*.

**په پايله کې**، يادو شوو مواردو ته په پام اسلامي مفاهيم او ارزښتونه په خورا غوره بڼه انسان ارامۍ او سکينت ته رسوي؛ خو په دې توپير چې انسان ته تذکر ورکوي، چې واقعي او حقيقي ارمتيا بې له جنته په دنيا کې نه پيدا کېږي، نو بې ځايه په دايمي ارامتيا پسې مه ګرځئ.

نو اړينه ده، چې خپل ځان د غربي فرهنګ له اغېزه پاک کړو او په مقام، شتو، سياسي موقف پسې له بې ځايه منډو ترړو ډډه وکړو، تر څو وکولی شو، د ژوند ستر هدف ته، چې د الله سبحانه وتعالی رضايت دی، ورسېږو. مګر په دې لاره ستر خنډ هغه مفکورې او مفاهيم دي، چې د وخت په اوږدو کې مو تر لاسه کړې. دا مفاهيم موږ نه پرېږدي چې ځان له دغې باطلې کړۍ وباسو؛ بلکې دغو افکارو موږ په داسې دام او زندان کې اچولي يو، چې له راتلونکي شديده وېره او اظطراب لرو او د هغو مسايلو په اړه انديښمن يو، چې هېڅکله يې نه شو خنثا کولی او دا حالت ژوند له خنډونو سره مخ کوي.

بايد له ياده ونه باسو چې د دغه وضعيت د بدلون لپاره اساسي حل لاره د اسلامي ارزښتونو تر چتر لاندې يوه واقعي فضا جوړول دي، تر څو امت وکولی شي، په دې فضا کې ځان د ديموکراسۍ له چټلو ارزښتونو خلاص کړي او د اسلامي ارزښتونو په تطبيق چې د انساندوستۍ، مثبتپالنې، له رجاء سره د يو ځای خوشبينۍ ډک دي؛ يو ځل بيا سکينت، خوښي، دبدبه او جلال د طلايي ماضي په څېر دردېدلو اسلامي خاورو ته راوړي او نورو ملتونو ته د دغو ارزښتونو په حمل نړۍ د وينې زېښبونکې پانګوالۍ- ديموکراسۍ د پوچو ارزښتونو او ښامارانو له دامه وژغوري. د دې ورځې رارسېدنه هغه چا ته چې انتظار يې لري، نږدې ده.

**مصدق سهاک**

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر غړی**